## عبدالحمید مومند (ماشو خیل)

دهند کلاسیکه شاعري دخپل وخت یوه نازک خیاله او دااستعارو څخه ډکه ،داغراق څخه ډکه شاعري وه،چي په ادبی فورم کښي ورته وګورو نومورې شاعری تر ډیره ځایه پوری رومانتیکه شاعري وو.دغه سبک شاعري ډیره ښکلې ښه نظم ته ورکوي.خوددغه شاعرۍ پلویان تراوسه هم دغه رومانتیکه شاعري پالي.اودغه مورټه دا را په ګوته کوي، چي دپښتو ژبي شاعرانوهندی دغه نازکه خیاله سبک په هغه اندازپرمخ بیولی دی،چي دهندی شاعرانوڅخه هم څوګامه مخکی تللي دي.دغه شاعران چی هندی سبک یې پاللی دئ.خدای بخښلی حمید ماشوخیل – کاظم خان شیدا – بیاض ګډون – میرعبدالله – نورمحمدافغان او ځینی نور... خو! دیادولووړده چي همدغه سبک شاعرۍ ته دلومړی ځل دپاره حمید ما شوخیل پاملرنه ورواوښتل.حمیدبابا دشعرلوړه وړتیا ،جوړونکی فکراودنوی مضمون دپیدا کولو توامن خیال اواستعداد درلودئ.په دې کښي شک نه سته چي دده شعرښکلی اوپه بدیعي ښکلاسمبال اوبشپړه وو.دده شعردشاعرانودپاملرني وړوګرځیدئ،نوځکه یې دی دمؤشګاف شاعرپه نوم ونوموئ.دغه لقب یوازي دحمید بابا دنوم سره خپله ځانګړنه لري.حمیدمهمنددماشو خیلو په کلی کښي دې دنیا ته سترګي رڼې کړی دي.ژوندیې په ماشوم والي کښي ساده ژوند تیرکړی دئ،که څه هم په تصوفي اوعرفاني لارښوونوکې زده کړه کړې ده چي دهغه وخت مروجه علوم همدغه ټولنیزعلوم وه.دپښتو په شاعرۍ کښې دریالیزم هغه خودمختاره لاره تعقیب کړه چي په ازادانه توګه یې دانساني غوښتني اودطبعت ښکلادعشق او محبت ،مینه کول یې دشعر هغه اصلی کړنلاره ده. چي دنورو کلاسیکو شاعران دقید څخه یې تر ډیره اندازې ځان را ایستلی دئ.که نورو شاعرانودشاهانو ستاینه ددتخیلي او ایډیالیستي فکرونو صفتونه په خپلو شعرونو کښي کړي دي، خوحمیدبابابیا دمیني ،محبت او ښکلا پیژندني لاره خپله کړې ده. ځکه مورپوهیږوچي ټوله شاعران ځانته دادبي سبک خاوندان دي.دغه وخت حمیدبابا درنسان ددورې ادبي وتلی شاعرؤ.اولکه څنګه چي په نړۍ کښي دعلم ،تخنیک ،پرمختګ لاره روښانه سوه، همدغسي په اسیااومنځنۍ اسیا کښي هم دهنر اوادب څراغ ولګیدی، دغه وخت حمیدبابا دسعدي صاحب ،بیدل صاحب دشعرونو پیروی وکړه.اودهغوی لقبونه یې هم دځان کړه.لکه چي (مستشرق هنري جورج راورټي) دحمیدبابا شعرونه دسعدي اوبیدل په شان دخپل وخت مهم شعرونه ګڼلي دي.نولکه مخکي چي یادونه وسوه،دغه وخت دادب ترکیبونه،ډیر بډایه اونازک خیاله بللي دي.همدغسي انورالحق جیلاني دهغه دیوان خپورکړچي دهغه ستاینه په کښي سوې ده دیوان یې (درومرجان) دظلم ضد،دعشق اومیني،تصوفي شعرونه دي.

دحمیدبابا لومړنی شعر :

الهي دمحبت سوزوګدازرا

په دااورکې سهي سمندرسازرا

تن پروربلبل دي عیش کاندي په ګلو

پروانه لره په اور زما پروازرا

که مي نه زمویې په ویاړدوړو سترګو

می دعشق په میخانه کې دمجاز را

چي نظرله ناتوانۍ وچاته نه کا

دهغو بیمارو سترګونیازوناز را

چي مي نه وي سرکوزی چاته بې ښکلو

له دولته دعشق هسې کبرونازرا

اضطراب مي دحرص کړې له زړه نه لیري

قناعت قوي لنګرددې جهازرا

که مي نا پاشوي سیرزیدعمرته

خپل زانو لکه نرګس محرم رازرا

ځوبه ګورم دقیامت وورځوشپوته

دانجام په دم قدم کي دآغاز را

دحمید محموده را شه په خپله

کمینۍ لره کمال زماایازرا

دحمیدبابا لومړۍ غزله دیوان (دورومرجان) .

حمیدبابا دپښتوژبه دخپل هنرپه ښکلا دومره پیاوړې اودپام وړوګرځول اودهنرپه دنیا کښې خپل ځانته ځای وموند.حمیدبابا خپله وائي:

فارسیوان دحیرت ګوتي په غاښ کړې

چي حمید سخن سازی کا په پښتوکې

که څه هم حمیدبابا دپیښورپه بډه بیره نومي ځای کښي چي دیوې نظامي چونۍ په څنګ کښي ځای لري، په کال ۱٦٦۴م کښي دې دنیاته راغلی دی،ویل کیږي چي دمړینی کره نیټه يې معلومه نه ده خو دتخمین پر بنسټ په کال ۱۷۳۲م کښي يې ددې دنیا څخه سترګي پټې کړی او ځان یې حق ته سپارلی دئ.«روح دې ښادوي».دغه وخت چي انګریزان لا دې خاوري ته نه وه را ننوتلي اوسرحدات هم په کنترول کښي نه وه،دشاعرانو،لیکوالانو تګ اورا تګ هندوستان او دشاه وخوا دغه پراخی سیمي ته په اسانۍ سره تګ اوراتګ کیدای سوای،نو ځکه زموږ ډیر شاعران ،دوخت پوهان او دنظرخلکو په سیمه کښي تګ اوراتګ کولای سؤ.اودعلم بازار هم خورا په چټکۍ سره پرمخ تلئ،دحمیدبابا مکتب هم په سیمه کښي په اوسني افغانستان او دنورو ځایونو کښي خپل پلویان پیداکړه.

حمیدبابا دعلمي بدیع په قانوني چوکاټ کښي مختلف فورمونه دشعر لري، چي په هر فورم کښې نازک خیالي څرګندیږي. دبیلګې په توګه دغه لاندي (لف ونشر) فورم .

هم نشین دبې حیاء وي بې حیاء

سپیره ږیره ژرنده کړي دآسیا

هر مجلس لري اثردښواوبدو

دامتل دی دریښتینو په ریښتیا

هغه رنګ اخلي جامه چي په خم کیوزي

سورکه سپن که ژړکه شین دی که سیا

دغه دلفونشر صنعت دحمیدبابا په شعر کښي یوخوندورحالت څرګنده وي ،چي په لومړي بیت کښې څونومونه یا خبري راوړی دي.اوپه بله مصرعۍ کښې ئې ستاینه کیږي.په لومړۍ مصرعۍ یا بیت کښې

خبري لف خوبيا ستايني ته يې نشر وائي.دغه صنعت دلف اونشر يوه عربي کلمه ده چي معنايې کړکيچ ،تيت وپرک ته وائي.

همدغسي دطباق دصنعت يوه بله بيگه چي حميد ماشو خيل وايې.

ښه اوبد د يارپه بله دي لذ يذ

گوښې گوښې يوتربله دی لذ يذ

داتروه،ترخه کنځل ددلبرانو

تر شکرويوپه سله دی لذ يذ

طباق يوه عربي کلمه اومصدردی؛چي لغوی معنا يې برابري او مطابقت ته وائي.خو شاعريې دبديع په پوهه کښي دتضاداو مقابل په ډول راوړي.لکه اور- اوبه – شپه – ورځ – لوړ او ټيټ – ژړا – خندا اونور.دلته ښه او بد په لومړي بيت کښي تروه – ترخه شکره اونور.

همدغسي دحميد بابا په شعر کښي دتر کيب بنددصنعت يوه بله بيلگه وينو :ترکيب بند په لغات کښي ديوځای تړلوته وائي:خودعلم بديع په اصطلاح کښي هغه ته وائي : چی شاعرڅوبنده شعرپه بحر کښي موافق اوپه ډول،ډول قالبوکښي را وړي،چي پسله هر بند څخه يوبيت په جلا قافيه سره را ولي.دانو لکه ترجيح بند ؛ ليکن په ترکيب بند کې هغه بيت نه تکراريږي.او هر واريو بيت جلا را ولي برخلاف له ترجيع بند څخه هغه بيت تکراريږي.لاندي غزل دحميد ماشوخيل ترکيب بند يوه بيلگه:

نن به شپه زماديارپه کوم مکان وي

جلوه گربه په کوم هټ په کوم دکان وي

شرمولي به يې حسن کوم ترکان وي

کوم دکان به يې دخولې ددوردکان وي

په ډيوه به يې دمخ څوک پتنگان وي

همخواهان به يې پاکان که ناپاکان وي

ولي نه چوې له دې غمه زما دله

چي دی واوریدل دیار دتلوبد له

نه به وي ورسره هسي مسلمان څوک

چي يې واخلي خصمانه دآب ونان څوک

نه به وی ورباندی هسي مسلمان څوک

چي يې وبولي په ځاراوپه قربان څوک

یايې سوپرې کا په سرلاس داحسان څوک

یايې ورکړي دبل کارسراوسامان څوک

چی له هسی غمه نه مرم ژوندی پایم

نـــوزمـــا په محبت شه بـــې وفـــا یم

پرتلیزه شعري صنعت : هغه چی ددوشاعران شعرونه سره مقایسه کوي.لاندي بیتونه درحمان بابا او حمید مشوخیل :

رحمان باب حمید ماشوخیل

پورته بدررا ښکاره سوښکته نمر – اینه توره تبۍ شې په جوهر

نمرسپوږمۍ مي دپلنګ دپاسه رغړي – سیند ته سیل محتاج نه دی درهبر

په سروسپینو دورولعلویې غوړېډ ک شي – د طوبا په سیوری ناست یم مخ په لمر

چي دی ووینم په مخ مې اوښکی درومي – په دریاب کښي اوررا لګي مقرر

بل مذ کوردسخنګویوسترګو نه زده – چی می نه په سرسر کیږی نه په زړه

که رحمان صاحب نظرباله شي ښايې – دحمید دحیا ء قد ر لکه غر

رحمان بابا – حمید ماشو خیل

تورو زلفو چي خاطرکړو تار په تار – چي غرقاب می هم ګریوان دی هم کنار

رهبري په دردوغم غواړم وصال ته - زه خوړلی یم په کټ دزلفو مار

لکه سیل چي رژوي کمر د شگو - یارمی نه دی هومره جور داغیار

له خواوي دیارپه خط زړه ښکومه - لکه ایښی چی چا گل وي په دستار

دادروغ دي چې په وصل کښې ښادی ده – هغه وایي چې یې کوروي دلدار

دغه ددوشاعرانودشعرڅخه یو نظم جوړول دبدیع دعلم دصنعت یوه برخه ده چي په ځینو شاعرانو کښي دمقابلې دپاره په مجلسونو او دکتابونو په شعرونو کښې رواج موندلئ دی.

دشعرونوبدیعی صنعت دټولونامتوشاعران په کلاسیکو شعرونو کښي ځای لري.

**حمید بابا،حمید ماشوخیل ،حمید مهمند :**دخپل وخت یونامتو پوه اونازک خیاله خوږژبئ شاعرتیرسوی دی.دی دخوشحال خټک څخه یې ۹۱ کاله توپیر دعمر سته یعنی دخوشحال خان خټک څخه وروسته یې دشعر بیرغ رپیدلئ دی.دغه وخت دشعر اوشاعرۍ ساحه ډیره پراخه سوه،اوددغه ملي شاعرانو سره دپښتنو په فکری خو ځښتونوکې ملي احساس،فکري نوښتونه هم را منځته سوه،په پښتنو کښي ملی شعورپیاوړی سؤ.نو نه یوازي دتوري قوت بلکي دقلم طاقت هم دپښتنو دسیاسي کړنو سره هم غاړی سؤ.دغه دوره دپښتنو دناسیونالیزم دوره گڼم.ځکه چي شاعرانو او ادیبانویې دگاونډي ژبو سره ځانونه دسیالۍ سیال کړه.پښتو ادب یو تکانده حرکت را پیل کړی،چی دپښتو ادب یې تر فارسي ،اردو،ترکیي او هندی ژبوسرحدته ورنژدې کړی.دپښتو ژبي شاعران هریودخپل وخت دیوه ځانګړي میتودولوژۍ په چوکاټ کښي خورا ډیرشهرت په دننه دسیمي او په نړیواله کچه ترلاسه کړئ،دغه وخت که خوشحال بابا یوحماسي نشنلیست هیوادپال شاعراودتوري خاوند نامتو حماسي منل سوی شاعروو.خوحمیدبابا هم یو پښتون اودسیمي په کچه دخپل وخت یومنل سوی علم وو.

که دحمیدماشو خیل ژوند د۱٦٦۴ څخه تر ۱۷۳۲ م کال پوری وگڼونو هغه ٦۸ کاله یې دژوندزمانه تیره کړې ده.چي ۵۸ کاله تر ستراحمدشاه بابا مشردی.اودمړیني نیټه یې ۴۱کاله ترمخه تراحمدشاه بابا وفات سوی دی.داسي معلومیږي چي دمیرویس نیکه دژوندپه شاه وخواکې ژوند درلودی، ځکه دمیرویس نیکه دمړینی نیټه داښوي چي په ۱٦۷۳ م کي زیږیدلی او په ۱۷۱۵ کې دمړیني نیټه ښودل سوې ده.چي دزیږیدني توپیریې دمیرویس نیکه څخه توپیر ۹ کاله راځي یعني نه کاله تر میرویس نیکه مشر دی.نو په همدغه دوران کښې ژوندوو.چي دغه وخت لا هندي برطانوي پر هندوستان قبضه نه وه کړې.اوپښتانه دمغلو سره لاس په گریوان وه.اودغه وخت فارسي ادبیات پرسیمه حاکم وه. نو ځکه حمید ماشوخیل اودده ملگري دیوه نازک خیالۍ تر سیوري لاندي دشاعرۍ سبک مخته بیا ئي.لکه

پیرمحمد کاکړ،شمس الدین کاکړ، کاظم خان شیدا،بیاض گډون ، میر عبدالله امام ،نورمحمد افغان او په وروسته کښي حنان بارکزی اونور خونن هم دده دسبک شاعري موږ په ځینو شاعران کښي لکه تائي اونور شاعرا وینو دتائي دشعریوه بیلگه :

زړه پـه مینه هـومره سـتړئ دی تائي
لکه عینـي د گــــــور مـړئ دی تائي
بـې حُبابـه بـل مثال ئـې لیدای نـه شي
دغــــمــونـوســـــیند را وړئ دی تائي
یو کاته ئې تړول کمان غشي ترې تاؤ کړه
لا ســـــینه کـي پـــــوروړئ دی تائي
داپرښاخ دچمبېلي چي پریشان پروت دی
دا افــعي مـــارزخـمي کــړئ دی تائي
همیشه چي د غـمونــو بـانـدي شـور دی
تـه وا غـــم پـــــه کال زو کړئ دی تائي

دتائي صاحب سبک دشعرونو هم دومره خوږاو څرگنددی ته به وایې : چي دوخت ماشوخیل را ژوندی سوی دی.همدغسي په لسهاو نور شاعران به هم وي چي دحمید مهمند نازک خیالي یې تعقیب کړې وي.دیادوني وړده دتائي صاحب دشعرونو ټولگه په بابا سنټرویب پاڼه کي موندلای سئ.
ادرس :babacenter.nl همدغسي په همدغه ورځپاڼه کښي نور کتابونه اومضمونونه ویلای سئ.
خوبیاهم دومره ویلای سم چي حمیدبابا دخپل نوی سبک په فکري زده کړو او فکري علم سره یې دکلاسیک ادبي مکتب ملاورماته کړې ده.حمیدبابا ودې نوي فکرته پاملرنه وکړه اوهغه دنوښت فکري سبک لوړه وړتیا،جوړونکی فکراودنوي سبک دموندلوتوان درلود. ځکه چي دده شعرښکلی وو،نوپه همدغه دلیل په مؤشگاف شاعرسره یادسؤ.لکه چي وائي:
دازما دغمه شین زړه په کې خیال دیاردشونډ و
هسي رنگ زیب اوزینت کالکه می په شنه پیاله کي
یا :
هسی سحروجادوکا په نظردشهلا سترکو
نه یې سیال په هند کښي سته دی نه ثاني په بنگاله کي
حمید مهمند : په روانه پښتودمؤلانا غنیمت کنجاهي (نیرنگ عشق) په خوږه اوروانه پښتومثنوي ژباړلې ده.چي خوراغښتلی ادبي قوت لري.دژباړي نمونه یې :

هراندام دگل اندام په ناڅېيده
لکه موم داور له تاوه ځاځيده
کښيناستويې کښينول سل افتونه
پاڅيد ويې پاڅول سل قيامتونه
حميدبابا يا حميد مهمند يا حميد ماشوخيل: دهلالي چغتايي دشاه وگدا قيصه هم په خوږه روانه پښتومثنوي ژباړلې ده.چي په پيښوراوډهلی کښي خپره سوې ده.دحميدبابا دپيروانو څخه يوهم کاظم شيدادی چي هندی سبک يې په پښتوکښي په خپلو شعرونو سره لوړي ځوکي ته رسولی دی. دکاظم شيدا دشعر يوه نمونه :
په کي نشته سيا مست دهغو سترگو
گرزيدلی په درست هندپه بنگال يم
يالکه دغه غزل:
دشبنم دانه که تخم سی دگلو
زړه به سوړ په ديدن نه سي دبلبلو
چي ئې نه شته لکه گل ښه رخسارونه
ځوک به څه کړه توری زلفي دسنبلو
په څه شان درته بيان سوې طالع کړم
لکه نمرزما جبين دی دداغلو
دآسمان په شاني تيزدفيتنو نيغ کړي
صبح وشام گرځي ښکاره په سرو منگلو
ددرياب دسرجوشۍ دحباب زړه چوي
شيدا قطع دی اميدبويه دخپلو
همدغسي لکه نورشاعران دکاظم خان شيدا په ادبي شعري سبک کښي (هندي ،فارسي) اغيزی شاملي دي.چي په پښتوژبه کښې يې نوی احساس راوړی دی.پورته غزل دشيدا ځانگړی سبک دی چي استعارې او نازک خياليوتعبيرونو ښکلې بيلگه ده.
کاظم خان شيدا دافضل خان ختک زوی اوداشرف خان لمسی او دخوشحال خان کړوسی ؤ.دی په ۱۱۳۵ هـ ق کي داټکل دمخی زيږيدلی او په ۱۱۹۴ هـ ق کښي وفات سوی دی.
همدغسي دحميد مهمند دلاری پيروان خورا ډيردي چی تر نن ورځي پوری دهمدغه مکتب پيروان گڼل کيږي. پای . ليکوال : ننگيالی بځرکی